# د حفاظت تحلیلي چوکاټ

یوه پېژندنه

دا تحلیلي چوکاټ نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د سازمان (USAID) له لارې د امریکا د خلکو په سخاوتمندانه مرستو سره ممکن شوی دی. منځپانګه یې د IRC-DRC د پروژې مسوولیت دی، د نړیوال حفاظت د کلسټر لپاره د معلوماتو او تحلیل د کاري ډلې سره په همکارۍ کې، او ضروري نده چې د USAID یا د متحده ایالاتو د ددولت نظرونه انعکاس کړي.

Global Protection Cluster

USAID
FROM THE AMERICAN PEOPLE

# قدرداني


د نجات نړیواله کمېټه (IRC)، د کډوالو ډانمارکي شورا (DRC)، او د حفاظت نړیوال کلسټر (GPC) د هغو ټولو کسانو مننه او قدرداني کوي چې د حفاظت په تحلیلي چوکاټ کې یې خپله برخه کار کړې دی.

**د حفاظت تحلیلي چوکاټ او د لیکنې ټیم:** Francesco Michele (مشر مشاور، د IRC-DRC پروژه)، Brennan Webert (DRC)، Katie Grant (IRC)، Jude Sweeney (GPC IAWG).

**د پروژې ستراتیژیکه مشورتي ډله، د اقدام څېړنیزه ډله، او او هم رتبه بیاکتنه کوونکي:** William Chemaly (GPC)، Sofia Khetib Grundy (GPC)، Jessica Lenz، Jenny McAvoy او Lea Krivchenia (InterAction)، Kathrine Starup (DRC)، Boris Aristin Gonzalez او Ivan Cardona (GPC)، Pilar Gimeno Sarciada، Caroline Baudot او Valentine Honore (ICRC)، Erik Kastlander او فواد حسین سید (OCHA)، Kim Roberson (UNHCR)، Daunia Pavone (مشاوره)، atrice Chataigner (مشاوره)، دینا ابو سمرا (GPC OCHA)، Kelly Ryan، Clarissa Dudenhoeffer، Rachelle Cloutier (UNHCR)، Ellie Kemp (بې سرحده ژباړونکي)، Valerie Svoboda (GPC UNHCR)، George Readings، Bradford Adams، Andrew Meaux، auline Thivillier، Emily David، Emily Krehm، ډورا عبدالغني (IRC)، Verity McGivern (HelpAge International)، Perrine Benoist (انسانیت او ټولشمولیت)، Benedetta Cordaro او Julián Ibargüen Onsurbe (ملي حفاظتي کلسټر عراق)، Tiziana Clerico (حفاظتي سکټور لیبیا)، Connie Pederson (حفاظتي کلسټر فلسطین)، سعدیه علیم (جنوبي سوډان حفاظتي کلسټر)، Elizabeth Atkinson او Stella Cotorcea (IRC عراق)، Alon Margalit (حفاظتي سکټور نایجریا)، Josephine Kiguru (IRC نایجریا)، Dominique Reinecke (UNHCR مالي)، Sven Schmitz-Leuffen او Emilia Wahlstrom (UNEP)، Caroline Blay (GPC)، Luis Enrique Eguren (مشاور)، Veerle Triquet او Annelaure Duval (WFP)، Murat Yücer (OCHA)، Bruno Donat او Christelle LoupForest (Mine Action AoR)، Michael Copland او Joyce Mutiso (Child Protection AoR)، Jennifer Chase، Rofan Khalaf او Astrid Haaland (GBV AoR)، Emilia Wahlstrom (UNEP)، Mara Stecazzini، Patrick Rooney، Emilya Cermak او Jan Hessbruegge (OHCHR).

د هغو اژانسونو او افرادو مننه چې ددې اوزار کیټ په جوړولو کې یې د خپلې برخې مرسته کړې: د ظرفیتونو د ارزونې پروژه (ACAPS) • DRC • د نړیوال حفاظتي کلسټر د عملیاتو سِل، د مسوولیت سیمې (AoRs)، او ټاسک ټیمونه - د معلوماتو او تحلیل کاري ډله، د بشري حقونو د ښکېلتیا په اړه ټاسک ټیم، د قانون او تګلارې په اړه ټاسک ټیم • HelpAge International • بشریت او ټولشمولیت • InterAction • د سره صلیب نړیواله کمېټه (ICRC) • د کډوالۍ نړیوال دفتر (IRC • IOM) • د آیي ډي پي د پروفایل جوړولو ګډ خدمتونه (JIPS) • د ناروې د کډوالو شورا (NRC) • اکسفام برطانیه • بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنرۍ دفتر (OHCHR) • د معلوماتو د حفاظتي مدیریت (PIM) ابتکار • REACH Initiative • بې سرحده ژباړونکي • د ملګرو ملتونو د چاپېریال پروګرام (UNEP) • کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري (UNHCR) • د بشري چارو د هماهنګۍ لپاره د ملګرو ملتونو دفتر (UN OCHA) APMB، NARAS • مونږ نړۍ• د خوراک نړیوال پروګرام (WFP) • آیکونونه د Pixel perfect، monkick، phatplus، becris، freepick لخوا جوړ شوي د www.flaticon.com څخه • کاپي-ایډیټنګ د Kate Murphy لخوا • ګرافیک ډیزاین د Blake Roberts لخوا

ددې خپرونې په اړه نظرونو یا د بهترونې لپاره مهرباني وکړئ د نړیوال حفاظتي کلسټر د معلوماتو او تحلیل کاري ډلې سره د GPC په ویبسایټ ورکړل شوو اړیکو له لارې تماس ونیسئ.

دا تحلیلي چوکاټ نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د سازمان (USAID) له لارې د امریکا د خلکو په سخاوتمندانه مرستو سره ممکن شوی دی.

## منځپانګه


| | |
|---|---|
| قدرداني | 1 |
| منځپانګه | 2 |
| د جدولونو فهرست | 2 |
| د حفاظت د خطرې د تحلیلولو یوه جوړښتي کړنلاره | 3 |
| د PAF د حد دایره | 3 |
| د PAF هدف | 3 |
| لارښودي تګلارې او ابتکارونه | 4 |
| د موجود کار پر اساس هغه تعریفونه چې موافقه پرې شوې | 6 |
| د PAF تیوریکي چوکاټ | 7 |
| PAF مفکورې او جوړښت | 7 |
| د حفاظت تحلیلي چوکاټ څرنګه وکارول شي | 9 |
| PAF اساسات | 9 |
| څوک تحلیل کوي؟ | 10 |
| تحلیل کله او په څومره کثرت سره وکړی شي؟ | 10 |
| د PAF کاري بهیر | 11 |
| ضمیمه 1 د ستنو، فرعي ستنو او کټګوریو تشریح | 13 |
| ضمیمه 2 د PAF د تحلیل پروسه تشریح شوې | 18 |


## د جدولونو فهرست


| | |
|---|---|
| جدول 1: د PAF تحلیلي نتیجې: | 4 |
| جدول 2: شپږ اصول چې د حفاظت د تحلیل د پروسې زمینه جوړوي | 5 |
| جدول 3: د PAF مفهومي تعریفونه | 6 |
| جدول 4: د حفاظت د خطرې معادله (د InterAction څخه خپل کړی شوی) | 7 |
| جدول 5: د PAF پینځه مرکزي اجزاء | 7 |
| جدول 6: PAF مفکورې او جوړښت | 8 |
| جدول 7: د PAF ستنې | 9 |
| جدول 8: د حفاظت تحلیل کې نقشونه | 10 |
| جدول 9: د PAF کاري بهیر کې څلور قدمونه | 11 |
| جدول 10: د PAF د کاري بهیر لارښودي پوښتنې | 11 |

# د حفاظت د خطرې د تحلیلولو یوه جوړښتي کړنلاره

## د PAF د حد دایره

د **حفاظت تحلیلي چوکاټ** (PAF) د غبنتلي، سیاق او سباق سره مشخص حفاظتي تحلیل لارښوونه کوي.[i] PAF هر هغه چا سره مرسته کوي چې لاندې پوښتنو ته ځواب ورکولو لپاره د حفاظت تحلیل ترسره کوي:



د ژور او مدغم تحلیل د ملاتړ لپاره ډاټا او معلومات څرنګه باید تنظیم کړی شي او ترتیب ورکړی شي؟



د حفاظت د تحلیل ترسره کولو لپاره کومو معلوماتو ته اړتیا ده؟

PAF د بحران د چاپېریال د ژور او روان حفاظتي تحلیل لارښوونه کوي. دا پرېکړه کوونکو ته د داسې ګڼ سکټوري او ګڼ ډسپلني ستراتیژیو معلومات ورکوي چې هغه د حفاظت خطرې کموي او مخه یې نیسي کومې چې ښایي د نړیوالو بشري حقونو او د کډوالو او بشري کومک د حقونو څخه سرغړاوی وکړي. دا د بشري مرستو په ټول سیاق او سباق کې کارولو لپاره مناسب دی، په ګډون د په داخلي توګه بې ځایه شوو خلکو، بېرته ستنېدونکو، کډوالو او ګډو وډو وضعیتونو.

## د PAF هدف

تحلیلي نتیجې به د حفاظت د خطر د کمولو لپاره د ستراتیژیو په پرمختیا کې لارښوونه کوي. دې نه د یو بحران په پیل کې او د بحران پر مهال کار واخلئ تر څو دوامي تحلیل او د مداخلو خپلول یقیني کړی شي.

*دا حفاظت سره د مشخص وضعیت د تحلیل او د ډاټا او معلوماتو د تنظیم لارښوونه کوي تر څو د "یو زیات مساعد حفاظتي چاپېریال په ملاتړ کې په چلندونو او تګلارو د تاثیر کولو د هدف په خاطر د پروګرام جوړونې، وکالت او ډیالوګ لپاره د ثبوت اساس برابر کړي".*[ii]

PAF د USAID BHA په بودیجه چلېدونکي IRC-DRC د نتایجو پر اساس حفاظتي تحلیل د پروژې لخوا پیل شوی و تر څو د حفاظت د تحلیل د بهترونې او ساده سازۍ په برخه کې اجتماعي هڅو کې خپله برخه مرسته وکړي. دا د **نړیوال حفاظتي کلستر** د **معلوماتو او تحلیل د کاري ډلې** سره په شریکه او په بشپړه ملاتړ سره یې طرحه شوی و. دا د نړیوال حفاظتي کلستر لخوا تایید شوی دی.

جدول ۱: د **PAF تحليلي نتيجې:**




**لومړيتوب والا حفاظتي خطرې**

- د حفاظتي خطرو کليدي محرکات او د هغوی په نتيجه کې اړتياوې
- مدغم اقدام لپاره کليدي حفاظتي ملاحظات
- د Protection Egg موډل په کچو سره د غبرګون تشې
- د نفوس د هرې ډلې او جغرافيايي موقعيت په سر شدت

The PAF به دړسره د وخت په تېرېدو ځارنې لپاره د حفاظتي خطرو په پېژندلو کې مرسته وکړي. د حفاظتي خطرو د پېژندلو لپاره PAF په تاسو لازمي کوي چې په څلورو پراخه برخو غور وکړئ (جدول ۱):

- اوسنې فاکتورونه کوم چې د حفاظت په سياق او سباق په مثبت او منفي دواړو طريقو اغېز کوي.
- په ټولو جغرافيايي موقعيتونو او د نفوس په ډلو کې سرغړونې او ناوړه استفاده.[iii]
- په نفوس د لومړيتوب اغېزې (چې د نفوس په کرامت، خونديتوب او هوساينه اغېز کوي) کومې چې د نفوس د هرې اغېزمنې شوې ډلې او جغرافيايي موقعيت د مشخصو سرغړونو او ناوړه استفادې څخه رامينځته کيږي.
- د سرغړونو او ناوړه استفادې د حل کولو لپاره د انفرادي ظرفيت، سيمه ييزو ميکانزمونو، ملي اداري ظرفيت او د بشري غبرګون د ظرفيت اوسنې ترکيب.

دا تحليل د بدلون د تيورۍ د سياق و سباق سره مشخص معلومات ورکولی شي چې هغه په خپل نوبت د حفاظت د مطلوبو نتيجو د ترلاسه کولو لپاره د ستراتيژۍ او لومړيتوب اقدامونه واضحه کوي. د تحليل پروسه بايد دغو نتيجو د لاسته راوړلو لپاره ټولو اقدامونو ته زمينه برابره کړي، *"د هغو بېلابېلو سکتورونو او ډسپلينونو په ګډون د کومو په حرکت کې راوستلو ته چې نبايې اړتيا وي تر څو په مطلوبه نتيجه کې مرسته وکړي، او د مختلفو ممثلينو نقشونه معلوم کړي."*[iv]

حفاظتي ممثلين بايد تحليل دې لپاره وکاروي چې غير حفاظتي ممثلينو سره کار وکړي تر څو په شريکه *"د خطر د مشخصو فاکتورونو طريقې او مهم پراوونه وراندېز او معلوم کړي او د کم شوي خطر مطلوبه نتيجه ترلاسه کړي. ... د حفاظتي ممثلينو هدف بايد دا وي چې نورو ممثلينو سره، او همدارنګه هماغه يو سازمان دننه د مختلفو فعاليتونو او پروګرامونو ترمينځ تکميليت زيات نه زيات کړي، تر څو بېلابېل د خطرې فاکتورونه حل کړي."*[v]

## لاربنودې تکلارې او ابتکارونه

PAF د حفاظت د Inter-Agency Standing Committee (IASC د تعريف سره رديف دی، کوم چې دی *"ټول فعاليتونه په دې موخه چې د فرد د حقونو لپاره بشپړ احترام د قانون د اړوندو ادارو، په ګډون د بشري حقونو نړيوال قانون (IHRL)، نړيوال بشري قانون او د کډوالو نړيوال قانون (IRL) د حرف او روح په نظر کې نيولو سره ترلاسه کړی شي."*[vi]

*بشري اقدام کې د حفاظت په اړه د IASC تګلاره*[vii] او د *بشري بيان مرکزيت*،[viii] د سره صليب د نړيوالې کميټې (ICRC) *حفاظتي کار لپاره مسلکي معيارونه*،[ix] د PAF منطق ته د معلوماتو اساس ورکوي او ددې چوکاټ د پوهې او استعمال لپاره د پارامیټرونو په ټاکلو کې مرسته کوي.

د حفاظتي معلوماتو د مديريت ابتکاري اقدام (PIM) ددې خبرې د يقيني کولو لپاره سرچينې برابروي چې د حفاظتي تحليل معلومات د کيفيتي ډاټا او معلوماتو پر اساس وي. [x] PAF بايد د PIM د اصولو سره په مطابقت کې وکارولی شي. د PAF ژبه او منطق د نړيوال حفاظتي کلستر د *هيواد د بشري ټيم د حفاظتي ستراتيژۍ د لندمهاله لاربنود د ياډونې* سره هم رديف دی.[xi]

PAF داسي طرحه شوی دی چي د نتايجو پر اساس حفاظت د دري عنصرونو سره رديف وي: د سياق و سباق سره مشخص دوامداره تحليل، ګڼ ډسپلنري ستراتيژی، او پايله لرونکي ميتوډونه.[xii]

د PIM د چوکاټ پر مهال باید په جدول 2 کي تشريح شوي اصول د حفاظتي تحليل د پروسي لپاره زمينه مساعده کړي.

جدول 2: **شپږ اصول چي د حفاظت د تحليل د پروسي زمينه مساعدوي**

## شپږ اصول چي د حفاظت د تحليل د پروسي زمينه مساعدوي

**متمرکز په خلکو او ټولشموله**

د ولس ګټي او هوساينه باید د پروسي لارښوونه وکړي. ولس باید د سياق و سباق په تحليل او په مفهوم سازی، پرمختيا او د حل لارو په تطبيقولو کي ګډون وکړي.

**دوامداره**

تحليل باید په دوامداره توګه اپډيټ کړی شي او پرېکړو کولو کي تري معلوماتو لپاره کار واخيستل شي تر څو دا د ګواښونو په کمولو کي او څوک چي ددغو ګواښونو په وړاندي آسيب پذير وي هغوی لپاره جمعي مداخلو ته وده ورکړي، او ظرفيتونه پراخه کړي.

**وړتيا او ظرفيت**

حفاظتي ممثلين باید يقيني کړي چي په حفاظت کي ښکېله عمله او ورسره اړوند معلوماتي مديريت مناسبه روزنه او بنيادي وړتياوې ولري.

**د موجودي ډاټا او معلوماتو نه کار اخيستل**

د هغي ثانوي ډاټا، د ډاټا د غونډولو آلاتو، او معلوماتو څخه کار واخلئ چي دي سياق و سباق کي مخکي نه موجود وي. د تحليل موخه باید په واضح ډول تعريف کړی شوی وي، هغو اړوندو شريکوالو سره شريکه کړی شوي وي چي د تحليل پروسه کي ښکېل وي، او هدف يي د حفاظتي خطرونو د کمولو په لور اقدام وي.

**همغږي او همکاري**

همکاري او همغږي (د ټيمونو او سازمانونو دواړو دننه، او نورو - بشري او غير بشري - شريکوالو سره) د موجودو هڅو پر اساس مخته تللو لپاره حياتي اهميت لري تر څو حفاظتي خطري معلومي کړی شي او پري وپوهېدل شي، پر موجوده هڅو مخته تګ وشي او تکرار څخه ځان وژغورل شي.

**حفاظتي نتيجو لپاره اقدام**

هغه مختلفي لاري پيژندل چي د حفاظتي خطر د کمولو تمه تري کېږي، او د مختلفو ممثلينو د اقدامونو او نقشونو اړوند ترتيب. تحليل دي لپاره کارول کېدلی شي چي د خطر د کمولو د جمعي ستراتيژيو لپاره معلومات ورکړی شي، طرحه کړی شي او خپلي کړی شي، چي اساس يي يو ځانګړي سياق او سباق کي د Protection Egg د اقدام په مختلفو کچو وي.

## د موجود کار پر اساس هغه تعریفونه چې موافقه پرې شوې

په جدول 3 کې د مفهومي تعریفونو معلومات د موجودو تګلارو او ابتکارونو لخوا ورکړل شوي، چې په هغوی کې د PIM او لاربښود مواد شامل دي. تعریفونو ته د متخصصینو په ملاتړ سره او د ګڼ شمېر شریکوالو په ښکیلتیا د هم رتبه کسانو په کتني سره نهایي بڼه ورکړې شوې.

جدول 3: د PAF مفهومي تعریفونه

### د PAF مفهومي تعریفونه

**د حفاظت تحلیل**

یوه پروسه چې د حفاظت د خطرو د معلومولو لپاره ترسره شوې وي په دې هدف چې ستراتیژۍ او غبرګونونه د معلوماتو پر اساس وي.

**ګواښ**

یو انساني فعالیت یا د انساني فعالیت یو محصول کوم چې د تاوتریخوالي، جبر یا په قصدي ډول د محرومیت سبب کېږي. ګواښونه مرتکب (د ګواښ اجنټ) یا یوه تګلاره یا یو اتنیکي دستور (د ګواښ سرچینه) کېدلی شي کوم چې د زیان سبب کېږي.

**آسیب پذیري**

د یو فرد یا ډلې، یا د هغوی د چارچاپېر فزیکي چاپېریال ځینې ځانګړتیاوې یا شرایط، کوم چې د یو ګواښ د توقع، ورسره د مقابلې، د مقاومت یا ترې د رغېدو توان کموي. خلک د هغوی په تولنیزې ډلې، جنسیت، نسل، عُمر او نورو فاکتورونو باندې په اتکاء ګواښ سره مخامخ کېدو کې توپیر لري. آسیب پذیري یو ثابت یا جامد معیار ندی چې د خلکو مشخصو کټګوریو سره پیوست وي، او هیڅوک آسیب پذیر نه زېږي.

**ظرفیت**

هغه سرچینې او وړتیاوې چې افرادو، کورنیو، او ټولنو ته یو ګواښ سره د مقابلې یا ورسره مقاومت یا د ګواښ د تاثیر د کمولو لپاره موجودې وي. سرچینې کېدلی شي چې مادي وي او یا په هغې طریقه کې موندل کېدلی شي په کومه چې یوه ټولنه تنظیم شوې وي. په وړتیاو کې مشخص ډوله مهارتونه یا ځینو خاصو خدمتونو ته د لاسرسی توان یا یو خوندي ځای ته په ازادی سره حرکت کول شاملېدلی شي.

**تاوتریخوالی**

د فزیکي ځواک یا قدرت عمدي استعمال، تهدید یي یا اصلي، د خپل ځان، یو بل تن پر ضد یا د یوې ډلې یا ټولني پر ضد، کوم چې یا د زخم، مرګ، رواني زیان، خرابې پرمختیا یا محرومی سبب شي یا یې د سبب کېدو لوړ احتمال وي.

**جبر**

یو څوک د هغه د خوښې خلاف په زور یو څه کولو ته مجبورول.

**عمدي محرومي**

قصداً داسې اقدام چې د یو چا داسې سرچینو، سامانونو یا خدمتونو چې اړتیا یا د لاسرسي حق ورته لري د لاسرسي څخه مخنیوی کول.

**د حفاظت خطر**

د اغېزمن شوي ولس تاوتریخوالي، جبر یا عمدي محرومی سره اصلي یا احتمالي مخامخ کېدل.

**د حفاظت اړتیا**

هغه وخت راپورته کېږي کله چې د تاوتریخوالي قربانیان توان نلري چې د خپلو اساسي ګټو څخه دفاع وکړي او هغه اساسي احترام نه ورکول کېږي چې د چاروا‌کیو یا نورو ممثلینو څخه یې حق لري کوم چې په هغوی واک لري یا په چا چې هغوی متکي وي.

**د حفاظت نتیجه**

د خطر کمول، قربانیانو/بچ پاتې شوو لپاره د هغوی د حقونو او جبران د پوره کولو د بهترۍ په ګډون. په دې کې د هغو ګواښونو کمول شامل دي چې خلک ورسره مخ کېږي، ددغو ګواښونو په وړاندې د خلکو آسیب پذیري کمول، او د هغوی ظرفیتونه پراخول.

## د PAF تیوریکي چوکاټ

د PAF اساس د حفاظت د خطر د معادلې په تیوریکي چوکاټ دی. د PAF دننه، د *حفاظت خطر* په دې توګه تعریف شوی چې د اغېزمن شوي ولس تاوتریخوالي، جبر یا عمدي محرومۍ سره اصلي یا احتمالي مخامخ کېدل.

د حفاظت د خطر معادله (جدول 4) د هغو درېو فاکتورونو چې د خطر په ایجادولو کې نقش لري یوه غیر ریاضیاتي وړاندوینه ده. یو د حفاظت خطر هغه وخت رامېنځته کېږي کله چې ګواښ او آسیب پذیري (د یو فرد یا یوې ټولنې) د هغې ددې ظرفیت څخه زیات غټ وي مخنیوی یې وکړي، غبرګون ورته وکړي یا ددغه مشخص ګواښ څخه بېرته بنه شي.

د حفاظت د خطر معادله د یو فرد یا یوې ټولنې د آسیب پذیرۍ او ظرفیت د یوې پراخه ارزونې څخه زیات څه ته اړتیا لري. ددې په ځای، د PAF کاروونکي باید په هغې ځانګړې آسیب پذیرۍ او ظرفیت غور وکړي کوم چې د هر پېژندل شوي ګواښ سره اړوند دي.

جدول 4: **د حفاظت د خطرې معادله (د InterAction څخه خپل کړی شوی)**




## د PAF مفکورې او جوړښت

د PAF جوړښت د موجوده چوکاټونو څخه ترمینولوژي او تعریفونه خپلوي[xii] تر څو تکرار څخه ځان وژغوري، د چوکاټونو ترمنځ خپلمنځۍ فعالیت یقیني کړي، او د موجودې ډاټا او معلوماتو څخه استفاده کول وهڅوي.

PAF پینځه اجزاء لري (جدول 5):

- ځلور ستنې
- په هره ستنه کې درې فرعي ستنې
- د کټګوریو یو وړاندیز شوی سېټ په کوم چې معلومات تنظیمول کېږي
- تحلیل ته جوړښت ورکولو کې مرستې لپاره تحلیلي پوښتنې
- د ډاټا او معلوماتو د اړتیاو یو لیست.

جدول 5: **د PAF پینځه مرکزي اجزاء**

| د ډاټا او معلوماتو اړتیاوې | تحلیلي پوښتنې | کټګورۍ | فرعي ستنې | ستنې |
|---|---|---|---|---|
| داسې وړاندې شوې د ډاټا او معلوماتو اړتیاوې چې د وړاندې شوو تحلیلي پوښتنو ځوابولو کې مرسته کولی شي. | وړاندیز شوې کلیدي پوښتنې کومې چې د PAF د معلوماتو د هرې کټګورۍ سره ردیف وي، تر څو د چوکاټ د استعمال لارښوونه وکړي. موخه دا نده چې دا پوښتنې تشریحي وي ولې کېدلی شي چې خپلې کړی شوې یا تشریح کړی شوې وي، اتکاء په سیاق او سباق. | د معلوماتو د بنیادي منطقو یوه زیاته دانه کټګوري جوړونه چې په هره فرعي ستنه/ستنه کې موجوده وي. | د هرې ستنې فرعي بُعدونه؛ د ډاټا او معلوماتو په تنظیمولو کې ګټور دي تر څو د هرې ستنې په ترتیب د بُعد په نیونه پوهېدنه کې لارښوونه وکړي. | د تحلیل تر ټولو پراخه کټګوري چې حفاظتي تحلیل لپاره د یو اساسي بُعد لاندې راغونډې شوې ټولې ډاټا او معلوماتو اړتیاوې تنظیم کړي. |

**جدول 6: PAF مفکورې او جوړښت**

جدول 6 د PAF خلور ستني او دولس فرعي ستني ښيي:

### سیاق و سباق

- اداري، قانوني او اصولي منظره
- سیاسي او ټولنیزه-اقتصادي منظره
- د شخړې او/یا خطر تاریخ

### نفوس ته اوسني ګواښونه

- د ګواښونو اصلیت
- ګواښونو لپاره مسوول اصلي ممثلین
- حفاظتي خطرې

### په نفوس د ګواښ اغیزې

- د اغیزمن نفوس د مقابلې ستراتیژۍ
- د ګواښونو عواقب
- د اغیزمن شوي نفوس ځانګړتیاوې

### د حفاظتي ګواښونو د حل کولو لپاره موجود ظرفیتونه

- اداري او نور میکانزمونه او د غیرګون ظرفیتونه
- سیمه ییز میکانزمونه، سیستمونه او ممثلین
- د اغیزمن شوي نفوس ظرفیتونه

د PAF د ستنو، فرعي ستنو او کټګوریو یوه لا زیاته تفصیل والا تشریح په ضمیمه 1 کې ده. د تحلیلي پوښتنو او ډاټا او معلوماتو د اړتیا په اړه اضافي لارښوونه په ضمیمه 2 کې ورکړی شوې ده.

د PAF ستني تحلیل کوونکي هڅوي چې د معلوماتو په څلورو کلیدي منطقو تمرکز وکړي (جدول 7) تر څو په انتخاب شوي جغرافیایي منطقه کې تر ټولو لوړې حفاظتي خطرې معلومې کړي.

## د PAF ستني

**سياق و سباق**
د سياق و سباق بشپړه تحليل مهم دی ځکه چې دا مونږ سره مرسته کوي چې د سياق و سباق په هغو مشخصو فاکتورونو پوه شو کوم چې د بحران په ډاينامک او د هغې په نتيجه کې د حفاظت په وضعيت اغېز کوي.

**نفوس ته اوسني ګواښونه**
دا مهمه ده چې د ګواښونو هغه ډولونه وپېژندل شي کوم چې دا مهال راپېښېږي، د ښکېلو ممثلينو مسووليت او د ګواښونو اصليت.

**په نفوس د ګواښ اغېزې**
دا مهمه ده چې د نفوس هغه ډلې وپېژندلی شي کومې چې ګواښونو اغېزمنې کړې دي، او دا چې هغوی څرنګه او ولې ددغو ګواښونو په وړاندې آسيب پذير دي او د نفوس په مختلفو ډلو او جغرافيايي سيمو کې به يې عواقب څرنګه توپير ولري.

**د حفاظتي ګواښونو د حل کولو لپاره موجود ظرفيتونه**
دا مهمه ده چې معلومه کړی شي چې موجود ظرفيتونه په انفرادي او ټولنيزه کچه، او همدا راز اداري غبرګون او نور ظرفيتونه (ملي او نړيوال دواړه) څرنګه حفاظتي ګواښونه حل کولی شي، يا د عواقبو د کمولو له لارې يا د ګواښ د محرکي فاکتورونو د حل کولو له لارې.

# د حفاظت تحليلي چوکاټ څرنګه وکارول شي

PAF يو لارښود جوړښت وړاندې کوي کوم چې د همکارۍ تحليل او انعکاس فعالوي او د مطلوبه حفاظتي نتيجو لپاره د اقداماتو ګډون کوونکي طرحه. PAF تل د سياق او سباق سره خپل کړئ:

### PAF اساسات

PAF په مختلفو جغرافيايي کچو، په ګډون د ټولني، سيمې، هيواد او د پولې نه وراخوا، د تحليل ملاتړ کوي. دا د ډاټا د غونډولو آله يا کړنلاره نده، بلکې د PAF کاروونکي تل ډاټا او معلومات د ګڼ شمېر سرچينو او موجود ميکانزمونو څخه راغونډوي. د تحليل د هدف او د ډاټا او معلوماتو د اړتيا په تعريف کولو سره PAF د معلوماتو د تشو د معلومولو ملاتړ کوي او له دې امله پرېکړه کوونکو ته د اضافي ډاټا او معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره تر ټولو زياتو مناسبو کړنلارو، ميتودونو، او آلاتو په اړه معلومات ورکوي.

د PAF استعمال به د ثانوي ډاټا غونډول لازمي کړي، او هغه حد تر کومه چې د PAF د مشخصو معلوماتو کټګورۍ راسپړل کېږي به د سياق او سباق سره سم خپلول کېږي. ددې په بهترين تاثير سره تطبيقولو لپاره، تحليل کوونکي بايد:

- يو د حفاظت د تحليل مشرتابه معلوم کړي چې د تحليل د پروسې څارنه وکړي.
- په تحليل کې ښکېلو ټولو کسانو ته د پروسې جوړښت او نقشونه تشريح کړي.
- مشخص نقشونه او مسووليتونه مقرر کړي، ددې خبرې په يقيني کولو سره چې کوم کسان د حفاظت ستونزو ته تر ټولو نږدې دي چې هغوی د تحليل پروسه کې په معناداره توګه ښکېل وي.

## څوک تحلیل کوي؟

د PAF لپاره مطلوبه هدف مخاطبین هغه د حفاظت همکاران دي چې د حفاظت تحلیل ترسره کوي، په ګډون د حفاظت د همکارانو د سیمې او هیواد په دواړو کچو او د همکارۍ د جوړښتونو دننه. دا د ګډ او همکارانه تحلیل لپاره یو چوکاټ دی.

اکثر د بشري سرچینو نه شتون د جامع حفاظتي تحلیل مخه نیسي. *هغه آلات چې یقیني کوي چې ډاټا غبرګون لپاره کټوره او د کارولو وړ ده*[xiii] په دې اړه کټوری اشاري ورکوي چې، په داخلي یا خارجي توګه، به د چا مرستو ته اړتیا وي تر څو د یو زیات ژور او مدغم تحلیل ملاتړ وکړي (جدول 8).

د اغېزمن شوي نفوس، سیمه ییزې عملي، په میدان کې د شریکوالو، او د لومړۍ کرښې د کارکوونکو غږ او پوهه حیاتي اهمیت لري. د حفاظت د تحلیل مشرتابه باید دغه غږ او پوهه یقیني کړي، یا د چمتووالي غونډو کې د خپل نبغ په نبغه ګډون له لارې، یا د دوه طرفه مکالمو، او یا د تحلیل د ګډو ناستو له لارې.

### جدول 8: د حفاظت تحلیل کې نقشونه




## تحلیل کله او په څومره کثرت سره وکړی شي؟

اړینه نده چې د PAF استعمال د پیل یوه مشخصه نقطه ولري او دا ښایي د یوې مشخصې واقعې، ټکان یا پیښې څخه رامینځته شي. یو ځل چې رامینځته شو، نو دا باید یوه تکراري پروسه وي. د PAF لومړی استعمال د PAF په کاروونکو لازمي کوي چې:

- موجوده ثانوي ډاټا معلومه او تنظیم کړي
- وړاندیز شوي تحلیلي پوښتنې خپلې کړي
- شاخصونه معلوم کړي
- اضافي لازمه ډاټا معلومه کړي.

تاسو په موجودو تحلیلونو مخته تعمیر، د معلوماتو د تشو معلومولو، او د زیات ژور او مدغم حفاظتي تحلیل لپاره د اضافي معلوماتو د اړتیاو په اړه وړاندیز کولو لپاره PAF څخه کار اخیستلی شئ.

نور مخته تحلیل داسي اپډیټ معلومات تولیدولی شي چې په تکاملي سیاق و سباق انعکاس وکړي. د یو ځانګړي تحلیل په اهدافو باندې اتکاء سره، د PAF د ټول چوکاټ د تطبیقولو پر ځای د هغې د اجزاؤ انتخاب کېدلی شي. ددې معنا ښایي په مشخصو ستنو تمرکز کول او د تعریف شوو اهدافو د ملاتړ لپاره مشخصه ډاټا غونډول وي.

تحلیل، چې د PAF لخوا یې لاربښوونه کېږي، باید په باقاعدګۍ سره ترسره کړی شي.[xiv] د تحلیل د زماني چوکاټ د تعریفولو پر مهال، سیاق و سباق سره په اړوندو هغو پېښو یا موسمي ډاینامیکونو غور وکړئ کوم چې په نفوس، امکاني بشري پروګرام جوړوني، او هغو کلیدي لمحو یا ضرب الاجلونو چې د همغږۍ د تولو میکانزمونو اوړدو کې تولید شوي وي اغېز کوي.

**جدول 9: د PAF کاري بهير کې څلور قدمونه**

**4 شريک کړئ**

1. د لوستلو وړ او قانع کوونکی تحليل وړاندې کړئ
2. سندسازي وکړئ او نتايج شريک کړئ
3. پروسې او زده کړو درسونو ته بياکتنه وکړئ

**3 تحليل کړئ**

1. راوسپړئ
2. تشريح کړئ
3. توضيح کړئ
4. تفسير کړئ
5. پيش بيني وکړئ

**2 ترلاسه کړئ**

1. دخيل ممثلان له PAF سره اشنا کړئ
2. ثانوي ډاټا راټوله کړئ
3. که لازمه وي، لومړنی ډاټا راټوله کړئ
4. ډاټا په خوندي توګه ذخيره کړئ او وساتئ

**1 ډيزاين کړئ**

1. هدف تعريف کړئ
2. د ممثلانو ګډون او همغږي تعريف کړئ
3. د معلوماتو اړتياوې تعريف کړئ
4. د ډاټا او معلوماتو بياکتنه
5. تحليلي کړنلاره تعريف کړئ
6. فعاليتونه او سرچينې تعريف کړئ

## د PAF کاري بهير

د PAF کاري بهير (جدول 9) څلور مرکزي قدمونه وړاندې کوي (د ACAPS څخه خپل کړی شوي)[xv] او ورسره په اړونده پروسو لازمي کوي چې په وخت، د کيفيت او معتبر حفاظتي تحليل لاسته راوړي.

د هر قدم لپاره پروسه د سياق و سباق سره سم خپله کړئ او په کومه طريقه چې تاسو دا کوئ هغې کې لارښوونې لپاره يوه لړۍ اساسي پوښتنې تعقيب کړئ. جدول 10 هر قدم او وړانديز شوې اساسي پوښتنې واضحه کوي. نور جزييات په ضميمه 1 - د PAF تحليلي آلات کې تشريح شوي دي.

**جدول 10: د PAF د کاري بهير لارښودې پوښتنې**

**1 ډيزاين کړئ**

**د يوې نوې پروسې په اړه فکر کولو په ځای مشوره او ګډون وکړئ**

- کومه د حفاظت د پروګرام سره مشخصه ډاټا تاسو لپاره موجوده ده؟
- کومه نورو حفاظت سره اړونده ډاټا په دې سياق او سباق کې موجوده ده؟ (د بشري حقونو څارنه، خبري راپورونه، او داسې نور؟)
- د موجودو نمونو په اړه تاسو ته لا د مخه څه معلوم دي؟ (د بيلګې په توګه د خوړو امنيت، د معيشت له لاسه ورکول، د زده کړې په لاره کې خنډونه)
- تاسو په بهتره توګه پوهېدنې لپاره او د حفاظتي خطر د حل کولو لپاره څشې ته اړتيا لرئ؟

**2 ترلاسه کړئ**

**د نوې ډاټا د راغونډولو په ځای هغه څه چې تاسو يې لرئ تنظيم کړئ**

- تاسو د خپلو معلوماتو د تشو د ډکولو يا د ډاټا د غونډولو په وړاندې خنډونو لپاره چا سره بايد شريکوال شئ يا همکاري وکړئ؟
- هغه کوم مهم اړخونه دي چې تاسو پرې سياق او سباق کې پوهېدو ته اړتيا لرئ؟
- کوم معلومات (په ستنو کې) د ډاټا د غونډولو نه غير په دوامداره توګه په موجودې ثانوي ډاټا سره يا د نورو ممثلانو لخوا تغذيه کېدلی شي؟

**3 تحليل کړئ**

**هر څه ته د خواب ويلو د هڅې کولو په ځای د خپل ځان نه صحيح پوښتنې وکړئ**

- هغه څه چې تاسو ته لا د مخه معلوم دي، که چېرې د حفاظت د تحليل لېد څخه تحليل کړی شي نو څومره توپير لري؟
- تاسو دې راسپړنې لپاره څشې ته اړتيا لرئ چې يوه شئ چې آيا ستاسې مفروضې په سياق او سباق کې صحيح وې؟
- تاسو به د څه پيش بينې توان ولرئ؟

**4 شريک کړئ**

**فقط يو راپور کې د شريکولو په ځای له صحيح ممثلانو سره شريک کړئ**

- ښوک ښايي تحليل ته اړتيا ولري او څه لپاره؟
- صحيح ممثلانو سره يې شريکولو لپاره تر ټولو زياته مناسبه لاره څه ده؟
- د حفاظت د خطرو کوم فاکتورونه حل کولو ته اړتيا لري، او کوم ممثل مداخلې لپاره بهترين موقعيت لري؟
- د تحليل پروسه څرنګه بهتربدلی شي؟

i PIM، د حفاظت د معلوماتو د مدیریت عامه ټرمینولوژي، 2018، مخ 45، https://bit.ly/3bbzEpf

ii د IASC حفاظتي تګلاره، (2016:3)، https://bit.ly/3yrE2eo

iii د نفوس ډلې مخکې نه تعیین شوې کټګورۍ ندي. هغوی باید د سیاق و سباق سره مربوط وي، ددې خبرې په یقیني کولو سره چې مختلف ډوله ځانګړتیاوې باید جلا جلا مطالعه نکړی شي. د نفوس د ډلو د تعریفولو لپاره ځانګړتیاو کې عُمر، جنسیت، تنوع او جنس او نورې قومي کولتوري ځانګړتیاوې شاملېدلی شي (https://unstats.un.org/unsd/demographic/sconcerns/popchar/popcharmethods.htm).

iv د ICRC مسلکي معیارونه (2018:7)، https://bit.ly/2Zm7OBu

v د ICRC مسلکي معیارونه (2018:43)

vi IASC، 2016، https://bit.ly/3yrE2eo vii IASC، 2016، https://bit.ly/3yrE2eo viii IASC، 2013، https://bit.ly/3prEd41

ix ICRC، 2018، https://bit.ly/2Zm7OBu

x http://pim.guide

xi په ځانګړې ډول، دې نه د بین الاژانسي پروسو د مرستې لپاره کار اخیستل کېدلی شي تر څو د یوې جامع، سیسټم-پراخه او ګڼ سکټوري هڅې په حرکت کې راوستلو لپاره د لارښوونې په برابرولو سره په ډله ییزه توګه یو د حفاظت تحلیل ترسره کړی شي چې د حفاظت د هغو تر ټولو زیاتو جدي خطرو مخنیوی وشي یا ورته غبرګون وښودل شي کومو سره چې اغېزمن نفوس مخ وي او همداراز چې د تکرارېدونکي تاوتریخوالي مخه ونیول شي او د پای ټکی ورته کېښودل شي. IASC، 2016، https://bit.ly/2LUjQPa

xii InterAction، https://protection.interaction.org/

xiii هغه معلومات او ډاټا چې د PAF له مخې د حفاظت د تحلیل د واضحه کولو لپاره ورته اړتیا ده هماغه ده کومه چې د ګډ بین السکټوري تحلیل د چوکاټ (JIAF)، کووېډ-19 لپاره د معلوماتو د نړیوال مدیریت د ارزونې او تحلیل د سل (GIMAC)، د GBV د مسوولیت د تحلیلي چوکاټ د سیمې، د ماشومانو د حفاظت لپاره د اړتیاو او پېژندنې د تحلیل د چوکاټ (NIAF)، د ماینونو د اقدام د مسوولیت د تحلیلي چوکاټ د سیمې په تړاو د ډاټا د فعالیتونو او پروسو په ترسره کولو کې ښایي وکارول شي یا کارول کېږي. مفاهیم او جوړښت برسېره پر نورو تحلیلي چوکاټونو او ابتکارونو (د ملي حفاظت کلسټر عراق تحلیلي چوکاټ، ، MIRA او PIM)، د تحلیل ددې چوکاټ څخه استفاده کوي.

xiv وګورئ: هغه آلات چې یقیني کوي چې ډاټا غبرګون لپاره ګټوره او د کارولو وړ ده: https://bit.ly/3bXP6Hf

xv "د حفاظت تحلیل سره باید د یو ځلي تمرین په توګه چلند ونکړی شي؛ ددې په ځای دا باید د ټول غبرګون پر مهال په دوامداره توګه ترسره کړی شي. د حفاظت یو ابتدایي تحلیل د ابتدایي او انتقالي غبرګون د اساس لپاره کارول کېدلی شي. د غبرګون انتقالي یا ابتدایي فعالیتونه بیا د اړوندو شریکوالانو سره د نور دیالوګ او زیات ژور تحلیل لپاره یو اساس برابرولی شي، تر څو مفروضې تایید کړی شي، شراکت داری جوړې کړی شي او د خطر نمونې په زیاته جامعه توګه حل کولو لپاره ستراتیژۍ جوړې کړی شي. د ICRC مسلکي معیارونه (2018:42)

xvi https://www.acaps.org/sites/acaps/files/resources/files/acaps_analysis_workflow_poster.pdf